**مطبوعاتي اعلاميه**

**د اردن حکومت د دعوتگرو په ازار او شکنجې د الله سبحانه وتعالی او رسول صلی الله علیه وسلم پر وړاندې خپلې جگړې ته دوام ورکوي**



(ژباړه)

د اردن امنیتي محکمې په روانه اونۍ کې اسمعیل الوحواح (ابو انس) په یوه سیاسي قضیه کې، چې د حزب التحریر د ځوانانو د نیولو په موخه ترسره کېږي، په یو کال بند محکوم کړ.

استرالیایي وگړی او د استرالیا د مسلمانې ټولنې غړی اسمعیل الوحواح، شپږ میاشتې مخکې د عمان په هوایي ډگر کې له نیولو راهیسې په جسمي او دماغي ډول وځورول شو. ابو انس په اردن کې د کانگورو د محکمو له خوا له دې ټولو بې عدالتیو سره په داسې حالت کې لاس او گریوان دی، چې د اردن د رژیم پر نامناسب حالت یې له یوې فیسبوکي نیوکې پرته بل څه نه وو کړي.

په دې وسیله د استرالیا- حزب التحریر لاندې څو ټکو ته اشاره کوي:

۱- حزب التحریر یو سیاسي اسلامي حزب دی، چې د الله سبحانه وتعالی د امر پر اساس د اسلامي ژوند د بیا پیل په موخه جوړ شوي او کار یې له اول نه تر اوسه فکري او سیاسي دی. له دې کبله د اردن رژیم دا چې د حزب التحریر ځوانان غواړي تر الهي شریعت لاندې بیا اسلامي ژوند پیل کړي، دوی یې ځوروي او دا کار جرم بولي.

۲- هغه پوچ او احمقانه تورونه، چې د ابو انس پر ضد د فیسبوکي پوسټونو پر اساس له اردن بهر خپاره شوي، د اردن د قوانینو او یا الهي شریعت پر بنسټ په بشپړه توگه بې بنسټه دي. دا چې ابو انس اوس هم تر څېړنو لاندې دی، دا د قضیې سیاسیوالی ښیي نه حقوقیوالی او په حقیقت کې دا د حزب التحریر پر وړاندې د مبارزې لویه برخه ده.

۳- کله چې د اردن رژیم له هر ډول شک او وېرې پرته دا ټول تورونه زموږ پر ورور باندې تړي، نو دا باید هېره نه کړو، چې دا غرب و چې داسې ظالم رژیمونه یې رامنځته کړل او دا غرب دی چې دا رژیمونه یې خپلو شومو موخو ته د رسېدو په خاطر ژوندي ساتلي دي.

۴- همدارنگه باید هېره نه کړو، چې غرب د پولې له هغه لوري پر موږ څنگه عذابونه راوړي. دا چې غرب تر اوسه نه دی توانېدلی چې حزب التحریر په بشپړ ډول او یا هم ابو انس په خاصه توگه محاکمه کړي؛ نو دا ظالمانه دنده اردني حکامو ته سپاري، چې د هغې له لارې د حزب التحریر ځوانان وځوروي.

۵ـ هر مخلص او درک لرونکي مسلمان ته تذکر ورکوو، چې د داسې بې عدالتیو پر وړاندې چوپوالی به زموږ د اعمالو په کتاب کې شرمناک داغ وي. په اسلامي نړۍ کې د داسې ظالمو رژیمونو عمر ان د یوې ثانیې لپاره اوږدول، د الله سبحانه وتعالی د دین په حق کې لوی جنایت دی. ددغو رژیمونو د قربانیانو په برخه کې، چې له هغې ډلې یو ابو انس دی، هېڅ حکمت او مصلحت نشته چې موږ دغو رژیمونو ته هیله من واوسو.

٦ـ په پای کې هغه جنایتونه چې دغه ظالم رژیمونه یا یې غربي کافر باداران په اسلامي نړۍ کې ترسره کوي، هېڅکله به د امت د کار او فعالیت مخه و نه شي نیولی؛ ځکه واقعي اسلامي خلافت، چې د الله سبحانه وتعالی وعده ده او د دغه امت مخلص بچیان یې د تاسیس لپاره مبارزه کوي، ان‌شاءالله ډېر ژر به تاسیس شي.

په پای کې الله سبحانه وتعالی ته دعا کوو، چې زموږ ورور ابو انس ژر له زندانه ازاد کړي، کورنۍ او خپلوانو ته یې صبر ورکړي او مغفرت ورته وکړي.

**د حزب التحریرـ استرالیا مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: ۰۲/۱۴۴۰**

**۱۴۴۰هـ.ق، د جمادی الاولی ۱۲مه**

**۲۰۱۹م، د جنوري ۱۸مه**